**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

Jeffry j. Roberts
مترجم: عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۱۰/۱۰

# نادرشاه او هاشم خان، د افغانستان او انګلستان د همکارۍ پیل

## The Origins of the Conflict in Afghanistan

## پنځم فصل

### دوویمه برخه

د ۱۹۳۰ په لسيزه کي ځينو تنظيمونو او افرادو د افغانستان سره د شمال لوېديځي صوبې د يو ځای کېدلو خبري کولې. که څه هم چې غفار خان به اکثر وختونه ټول افغانان یو قوم باله خو ډېر ځله يې د هند په فيدراسيون کي د ننه د پښتنو د خودمختارۍ غوښتنه کړې ده. د دوهم نړۍ وال جنګ په کلونو کي د محور د هيوادونو او د افغانستان د حکومت د مخالفينو سره په تماس کي وو او له افغانستان سره د شمال لوېديځي صوبې د يو ځای کېدلو غوښتنه يې کوله. په ټول ۱۹۴۷ کال کي يې دا خبره کوله چې ده هر وخت د يوه مستقل پښتو نستان د جوړېدلو ملاتړ کړی دی؛ چې د متحد هند، يا وروسته پاکستان، سره نيژدې اړيکي وساتي. غفار خان د هندوستان او پاکستان له جلا کېدلو څخه وروسته کله د کراچې او کله د کابل ملاتړ کاوه او د خودمختارۍ په ډول خپلواکي يې غوښته او حتی په ۱۹۸۶ کال کي، له خپل وفات څخه لږ مخکي يې، د افغانستان د خلق ډيمکراټيک ګوند ملاتړ کاوه. د غفار خان د دريځ پرله پسې تغيير او د مبالغي لپاره فوق العاده استعداد د ده له سياسي فلسفې څخه يوه معمی جوړه کړه. پښتنو د خودمختارۍ او استقلال په مسلو کي چنداني ری نه واهه او حتی کله کله به يې په معنا کي غلط سول. اوس نو کله چې د غفارخان د دريځ دونه زياتو تغييراتو او عمومي نرم والي او په ضمن کی د خدايي خدمتګارانو په ګوند کي دننه د ده ديکتاتورۍ ته وګورو نو ويلای سو چې هغه د سياسي فلسفې سره دونه علاقه نه درلوده لکه په هره وسيله د قدرت د نيولو او ساتلو سره چې يې لرله.

خدايي خدمتګارانو چې هر ډول سياسي اهداف درلودل خو سلوک يې د تشدد نه کولو سره ډېر توپير درلود. د ۱۹۳۰ کال د اپريل پر ديرويشتمه د برتانوي هند مقاماتو په پېښور کي د حکومت پر ضد فعاليتونو په جواب کي غفار خان او د هغه ورور دواړه بنديان کړل، او د حکومت دا عمل د پراخو مظاهرو سبب سو. د هند پوځ، چې څلور زغره وال وسايط ورسره وه، د مظاهرو د کرارولو او نظم د ټينګولو کوښښ وکړ. زغره والو وسايطو پر هغو مظاهره کوونکو باندي چې پر دوی باندي يې د خښتو وارونه کول، د ماشين ګنو ډزي وکړې او يوه زرهدار شپږ تنه لاندي کړل. مګر عسکر په بله ورځ وايستل سول او ياغيانو ښار ونيوی. د راتلونکو نهو ورځو لپاره د حکومت کارونه يو مخ ودرېدل.

د مې پر څلورمه د برتانيې پوځونو د پېښور ښار بيرته ونيوی او نظم يې ټينګ کړ. پېښور کرار سو مګر په ټوله شاوخوا کي د نظم ټينګولو ټول اوړی ونيوی. د جون او اګسټ په مياشتو کي د مومندو او اپرېديو لښکرو د ښار پر لور مارش وکړ. ټول اوړی جنګونه روان وه او د ښار اوسېدونکو له ياغيانو سره مرستي کولې ډوډې يې ورکول، ځای يې ورکاوه او کله کله خو به په حملو کي ورسره ملګري سول. که څه هم چې دا حملې منظمي نه وي خو ډېر زيات تاوان يې ورساوه. بالاخره اپرېديو له ښار سره ټول ارتباطات قطع کړل او حکومت مارشال لا اعلان کړه او د تقويتي قواو غوښتنه يې وکړه او د اکتوبر تر مياشتي پوري يې پاڅون ته خاتمه ورکړه.

برتانيې له دې پاڅون څخه څو درسونه واخيستل. دوی پوه سول چې دغه راز پيښو ته يې تياری نه درلود او کافي امنيتی قواوي يې نه لرلې ( دې خبري ته بايد اشاره وکړوچې پر اعلی کميشنر، د دې ښورښونو په جريان کي عصبي حمله راغله). د پوځ عمومی قوماندانی او ايالتي مقاماتو د زياتو لګښتونو او امنيتي تياريو توصيه وکړه. دا اصلاحات عملي سول مګر غفار خان بيا هم خپل اعتراضونه وکړل او په دغه وخت کي په لندن کي د هند د سرنوشت په باب خبري هم په ټپه ودرېدلې او پېښور يو ځل بيا د عمومي ښورښ تر پولي ورسېدی. خدايي خدمتګارانو د ۱۹۳۲ کال د جنوري پر لومړۍ نېټه د يوې غونډې ترتيب نيولی وو مګر مقاماتو د غونډې څخه مخکي شپو کي د ډسمبر په مياشت کي د ګوند زيات شمېر غړي بنديان کړل، ګوند بې مشرانو سو او د ښورښ مخه ونيوله سوه. د جنوري په



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

میاشت کي دونه مالیه ټوله سوه چي تر دغه وخته یې ساری نه وو لیده سوی. دې کار د ۱۹۳۰ کال د اپریل له میاشتي سره ډېر زیات توپیر درلود. غفار خان درې کاله په بندیخانه پاته سو او تر ۱۹۳۷ کال پوري سرحد ته له تللو څخه منع سو. هغه وخت چي دی بیرته سرحد ته ستنېدی نو ایالتي اسامبلې څلور کاله د کار سابقه درلوده.
د ۱۹۳۰ په پاڅون کي څرګنده سوه چي د برتانیې په پالیسیو کي نیمګړتیاوي موجودي دي او د برتانیې مقامات یې په دې عقیده کړه چي په شمال لوېدیځه صوبه کي ډیمکراتیک اصلاحات بیرته وګرځوي. دې فیصلې څو دلیله درلوده او یو دلیل یې د ګاندهي ټینګار وو، چي مخکي یې د هند د هر ډول حل سره د سرحد مسایل تړلي بلل، اوس یې د برتانیې د وروستی فیصلې ملاتړ وکړ. په ۱۹۳۲ کال کي د شمال لوېدیځي صوبې لپاره یو اعتدال خوښوونکی سیاستمدار عبدالقیوم خان د اعلی وزیر په حیث وټاکل سو. د قبایلو پالیسي د مرکزي حکومت تر کنټرول لاندي سوه. د هند د ۱۹۳۵ کال د مقررې سره سم، په ټول هند کي ډیموکراتیک اصلاحات اعلان سول او په هغو کي شمال لوېدیځه صوبه هم شامله سوه ( پرته له دې چي ګورنر ته د قبایلو د پالیسی ټول واک سپارل سوی وو ). د ګورنر کنینیګهم او د عبدالقیوم خان، چي یو وخت د ده اعلی وزیر وو، ګډو کوښښونو پېښور او شاخوا سیمه د ۳۰ د لسیزي تر پایه پوري نسبتا ارامه وساتله.
د افغانستان حکومت، د سرحد د ټولو ناکراریو په وخت کي، له ښورښیانو سره هیڅ مرسته ونه کړه او داسي پالیسي یې تعقیب کړه چي برتانیې پخپله هغه انګرېز دوستي Anglophile وبلله. د برتانیې یوه مقام وویل: « اوسني پاچا نادرشاه، خپلي ټولي وعدې، په باعزته توګه، پر ځای کړي دي او خپل ځان یې تر ټولو ښه او وفادار ثابت کړی دی. ده په خپله خاوره کي توندروان، تر هغه چي موږ په خپله خاوره کي ساتلي دي، ډېر آرام وساتل. دا تر ډېره ځایه د ده د نفوذ برکت دی چي د سور کمیسو یا سرخ پوشانو تحریک مستقلو سیمو ته، تر اوسني حالت زیات، ونه غځېدی.
»
نورو برتانوي مبصرینو ولیکل چي د افغانستان حکومت څرنګه قبایلو ته، په ډېره سړه لهجه، وویل چي له انګرېزانو سره په سوله کي ژوند وکړی او د لومړي ځل لپاره د افغانستان حکومت، جنګي او توندرو، قبایل له انګرېزانو سره جنګ کولو ته تشویق نه کړل. د افغانستان د حکومت دغه راز سلوک له برتانیې سره دا هیله پیدا کړه چي په سرحد کي دایمي ناکراری ختمولای سي.
له برتانیې سره د افغانستان د حکومت دغه ډول همکاری په هیواد کي دننه مخالفتونه را پیدا کړل. کله چي خلکو د نادرخان له قدرت نیولو څخه وروسته، په کابل کی د برتانیې وسلې ولیدلي نو مخالفینو یې ږغ پورته کړ چي حکومت لندن ته تسلیم سوی دی. کله چي د هند حکومت نادرخان ته د مرستو ورکولو په باب اطلاعات خپاره کړل نو په نادرخان پسي دا ډنډوره ګډه سوه چي هغه د ډهلي ګوډاګی دی. د هند حکومت د دې آوازو په مقابل کي هیڅ ونه ویل او فقط د نادرخان د رژیم ستاینه یې کوله او خصوصا یې په مشترک سرحد کي د قبایلو د آرام ساتلو په برخه کي له هغه څخه مننه کوله. کله چي برتانیې د قبایلو ښورښونه ځپل او هغو قبایلو ته یې چي له نادرخان سره مخالف وه د سزا ورکولو خبرداری ورکاوه نو دې آوازو، چي نادرخان یو بل وطنفروش دی، نور هم زور واخیست.
په افغانستان کي دغه راز داخلي مخالفتونو د نادرخان حکومت دې ته مجبور کړ چي له انګرېزانو سره خپل کلتوري، پوځي او اقتصادي اړیکي کنټرول کړي؛ په دې برخه کي له ډېر احتیاط څخه کار واخلي او خپل نظام ډېر اسلامپاله معرفي کړي. که څه هم چي د برتانیې مقاماتو د نادرخان له حکومت سره د زیات ملاتړ کولو علاقه ښودله خو نادرخان د داخلي مخالفتونو له ویري کوښښ کاوه چي له یوې او بلي لاري دا مرستي په داسي توګه ترلاسه کړي چي مخالفین یې زیات تحریک نه سي. نادرخان پرله پسې له قبایلو سره ملاتړ ښودی او هغوی ته یې دا ورپه زړه کول چي هر وخت یې د دوی سره اخلاقي مرستي کړي او دوی ته یې پیسې او مواجب ورکړي دي. برتانیه په دې پوهېده چي د تنخواوو او پیسو بندول څرنګه د ښورښونو د زور اخیستلو سبب کیږي نو مهمو قبایلي مشرانو ته یې پیسې ورکولې او چا چي د نادرخان سره د تخت په نیولو کي مرسته کړې وه هغه یې نازول. مګر په داسي حال کي چي برتانیه په دې پوهېده چي نادرخان د سرحد پر پوري غاړه له قبایلو سره اړیکي نه سي شلولای بیا یې هم له هغه څخه د همکاری کولو او په سرحد کي د ښورښونو په کرارولو کي د مرستي انتظار درلود.
له نادرخان سره د مخالفینو اساسي شعار د امان الله خان ملاتړ وو او ډهلی او کابل دواړه په دې پوهېدل چي هغه به د قدرت د نیولو لپاره کودتا کولو او بل هر ډول عمل ته مخه کړي. د امان الله خان فعالیتونو له حکومت سره دا شکونه پیدا کړي وه چي له هغه سره، په دسیسو کي، خارجي حکومتونه، ناراضي ګورنران او قبایلي مشران ملګري دي. برتانیې د امان الله خان د فعالیتونو په باره کي پنځه سوه مخه یوه دوسیه ترتیب کړې وه چي زیاتره د حج په موسم کي د هغه د فعالیتونو په باره کي اطلاعات وه. هغه د ۱۹۳۱ کال څخه تر ۱۹۳۴ پوري له روم، برلین او نورو، له نظره لوېدلو پایتختونو، له لاري فعالیتونه کړي وه. چرخي ورونو، غلام نبی، غلام جیلاني او غلام صدیق، په افغانستان کي، د مخالفینو رهبري کوله. دوی د عبدالرحمن خان د سپه سالار زامن ول چي د امیرحبیب الله خان په زمانه کي له نظره لوېدلي ول مګر د امان الله خان په زمانه کي بیرته را پورته سول او د هغه د طرفدارانو په سر کي وه. غلام نبي، چي د بچه سقاو د لیري کولو لپاره یې، د شوروي په ملاتړ کوښښونو رهبري وکړه، د نادرخان په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وخت کي، په يو شمېر ورانکارو فعاليتونو کي لاس درلود؛ په ډېر غرور يې نادرخان ته ويل چې هغه د تخت نيولو مستحق نه دی تر څو چې نادرخان هغه اعدام کړ.

په ۱۹۳۳ کال کي د حکومت پر ضد يو شمېر پېښي منځته راغلې. د جون پر شپږمه د چرخي يوه طرفدار، د نادرخان ورور محمدعزيز خان، چې په برلين کي سفير وو، وويشتی او وواژه. قاتل پر دې خبري اعتراف وکړ چې محمدعزيزخان يې ځکه وواژه چې دی د افغانستان د حکومت له دې پاليسی سره مخالف دی چې برتانيې ته يې په شمال لوېديځ سرحد کي د قدرت د ټينګېدلو او د پښتنو د استقلال د حق د سلبېدلو ملاتړ کړی دی. د سپټمبر په مياشت کي يو سړی د برتانيې سفارت ته ننووت او د سفارت درې تنه کارکوونکي يې ووژل. په نتيجه کي نادرخان، غلام جيلاني خان او د سفارت د کارکوونکو قاتل او يو شمېر نور کسان د خيانت کولو او بغاوت لمسولو په تور اعدام کړل.

د ۱۹۳۳ کال د نومبر پر اتمه، د غلام نبی چرخي د اعدامېدلو څخه پوره يو کال وروسته، د عبدالخالق په نوم ، يوه شپاړس کلن هلک نادرخان په داسي وخت کي وويشتی او وواژه چې هغه د ليسې شهادتنامې ورکولې. ځيني کسان ادعا کوي چې دا عمل د نادرخان د يوې لويې او پراخي دسيسې يوه برخه وه خو داسي ښکاري چې دا يوازي د بدل او کسات اخيستلو عمل وو. که عبدالخالق بريالی سوی نه وای نو ښايي چې د نادرخان د قتلولو لپاره به نور کوښښونه هم سوي وای.

د نادرخان د قتلېدلو په تعقيب، د جنګ وزير شاه محمودخان، له خپل نفوذ څخه د ګټي اخيستلو په زور، د نادرخان يوويشت کلن زوی، ظاهرشاه پر تخت کښېناوه. محافظه کار ظاهرشاه، د وروسته ديارلسو کالو لپاره، د هيواد د اداره کولو چاري خپل بل کاکا هاشم خان ته پرېښودلې. هاشم خان ډېر ژر په انتقامي عملياتو لاس پوري کړ او مخالفين يې وځپل. ده، په ۱۹۴۶ کال کي، تر خپلي استعفی پوري وطن په ډېره ديکتاتوري اداره کړ.

د نادرخان له مرګ سره د افغانستان په پاليسي کي، د ليدلو وړ، تغيير رانه غی. بلکه هاشم خان، تر خپل ورور لا، له برتانيې سره د نيژدې همکاری کولو طرفدار وو. هاشم خان، په هغه وخت کي چې سټالين د خپل قدرت په مستحکمولو لګيا وو، په شوروي اتحاد کي سفير وو او د هغه له تصفيوي عملياتو او د محکو او ملکيتونو په زور اشتراکي کولو د پروګرامونو شاهد وو. دی د روسيې له هر شي او هر کار سره سخت مخالف وو او د شوروي نيتونو ته يې د شک په نظر کتل. هاشم خان دغه راز پوهېدی چې ټوله نړۍ د عصري کېدلو پر خوا روانه ده نو افغانستان ولي تر ټولو شاته پاته وي. ده هم، د خپل وژل سوي ورور په څېر، هيله درلوده چې برتانيه به، د قبايلو په برخه کي د افغانستان د همکاريو په بدل کي، ډېري مرستي ورسره وکړي.

برتانيې د افغانستان له پاليسی څخه خوښي ښکاره کوله او معمولا به يې د افغانستان د حکومت د دوستی عمومي روحيې ته اشاره کوله او په سرحد کي به يې د کراری غوښتنه کوله. دواړو خواوو په خپلو سرحدونو کي د قبايلو په کرارولو کي زيات فعاليت وکړ. د هاشم حکومت د هند ياغيان خپلي خاوري ته نه پرېښودل او د افغانستان تر واک لاندي قبايلو ته يې په هند کي د انګرېزانو پر ضد ناکرايو کي د برخي اخيستلو اجازه نه ورکول. د دواړو خواوو استازو يوه بل ته د ورانکارو او جنايتکارو عناصرو د سپارل کېدلو پر موضوع باندي، په څو کنفرانسونو کي بحثونه وکړل. داسي پېشنهادونه وړاندي سول چې د ګډ سرحد په اوږدو کي دي د قبايلو د چارو د څارلو لپاره مشترک کمېسيون جوړ سي او برتانيه دي له افغانستان سره د سرحدي پوليسو په روزلو کي مرسته وکړي. د دغي همکاری له دوام څخه داسي ښکارېدله چې د برتانيې او افغانستان اړيکي به نور هم بهتر سي. يوه معاصر څېړونکي وليکل چې د برتانيې او افغانستان تر منځ اړيکي هيڅ وخت په دغه اندازه ښه نه وه.

خو په قبايلو کي د پرله پسې ناکراريو په باره کي دونه رپوټونه خپرېدل چې د افغانستان او برتانيې تر منځ د اړيکو د ښه کېدلو مسله به بيخي شاته پاته سوه. دغه ناکراری د قبايلو خپل کار وو او د افغانستان له مقاماتو سره يې هيڅ اړه نه درلوده. د ۱۹۳۰ په لسيزه کي، د سور کميسو په ښورښونو او ناکراريو کي د سرحد د دواړو غاړو مومندو، له ۱۹۳۲ څخه تر ۱۹۳۵ کال پوري، برخه درلوده. د ترنګزيو حاجي صاحب (چې د ۱۸۹۷ کال په پاڅون او له هغه وخت څخه وروسته يې په يو شمېر نورو ناکراريو کي برخه درلوده او يو وخت د عبدالغفار خان معلم وو) او د هغه زوی بادشاه ګل، له خپلو لښکرو څخه، چې ويل کيږي سورکميسو هم برخه پکښي درلوده، په يو شمېر حملو کي کار واخيست؛ او بالاخره يې انګرېزان د ۱۹۳۵ کال تعرضي عملياتو ته مجبور کړل. انګرېزانو، د څه باندي ۳۰ زرو پوځيانو په مرسته، دا ښورښونه وځپل مګر سره له هغه هم ښورښونه له سره پيل سول او بيا هم د سورکميسو کار بلل کېدی.

د شمال لوېديځ سرحد د ايالت په تاريخ کي تر ټولو لوی ښورښ د ۱۹۳۰ د لسيزي په پای کي، هغه وخت په ټول وزيرستان کي پيل سو چې ميرزا علي خان يا ايپی فقير خپل طرفداران ګيريلايي جنګ ته وپارول. دا جنګ په ۱۹۳۶ کال کي د اسلام بي بي له قضيې سره پيل سو. په لاهور کي پر يوه جومات باندي د سيکهانو د حملې په تعقيب، په بنو کي پښتنو يوه هندو نجلۍ وتښتوله؛ هغه يې په زوره د اسلام د دين منلو او له يوه مسلمان سره واده کولو ته مجبوره کړه او پر هغې باندي يې د اسلام بي بي نوم کښېښود. د هغې اصلي مېړه محکمې ته عريضه وکړه او محکمې هم د مخالفو اعتراض کوونکو په چيغو کي ری ونه واهه او هغه ښځه يې خپل اصلي مېړه ته وسپارله. فقير



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ایپي، چې له انګرېزانو سره د هغه دښمني او نفرت مشهور وو، له دې فرصت څخه ګټه واخیستله. هغه وویل چې یو مسلمان له خپلي عقیدې څخه بیرته ګرځېدلای نه سي او جهاد یې اعلان کړ. ده یو لښکر جوړ کړ او حتی مخکي له هغه چې د محکمې فیصله نهایی سي پر انګرېزي قواوو باندي یې حملې وکړې. په ۱۹۳۶ کال کي د انګرېزانو انتقامي عملیاتو د هغه طرفداران سره تیت او پرک کړل مګر فقیر ونه نیول سو او په وروسته دریو کالو کي د هند قواوو د هغه پر طرفدارانو باندي په غرونو کي حملې وکړې او پر چا یې چنداني رحم ونه کړ.
د جنګ ماهیت له افغانانو سره دا مرسته وکړه چې په عام ذهنیت کي خپل اعتبار لوړ کړي. ایپي فقیر د جینیوا په کانوانسیون کي لاسلیک نه وو کړی نو هغه چا په تروریستي تاکتیکونو ملامتولای هم نه سوای. پښتنو له خپلو غرونو او سیمو سره له بلدیت څخه ډېره ښه ګټه واخیستله. هغوی پر انګرېزانو باندي ناڅاپي حملې کولې. د انګرېزانو له منظمو قواوو سره یې له مخامخ جګړو څخه ځانونه ژغورل او په جنګ کي یې صبر او حوصله د ختمېدلو نه وه. سره له هغه چې برتانیې د جنګی الوتکو په شمول ډېري ښې وسلې درلودلې او سره له چې له پر مخ تللیو جنګي تاکتیکونو څخه یې کار اخیستی؛ او سره له هغه چې د ایپي فقیر قواوي هیڅ وخت په یوه زمان کي له اتو سوو څخه تر زرو تنو زیاتي نه سوې مګر څه باندي دوه کاله یې د انګرېزانو له ۴۰زرو څخه تر ۵۰ زرو قواوو سره مقاومت وکړ او په جنګ کي یې مصروف وساتل. انګرېزانو یوازي د اکمالاتي لارو د ساتلو لپاره ۱۰ زره عسکر موظف کړي وه. د ۱۹۳۷ کال د ډسمبر تر میاشتي پوري برتانیې ته، د وزیرستان په جنګونو کي، تقریبا ۱۰۰۰ تنه تلفات رسېدلي وه او څه باندي یو نیم میلیون پونډه یې لګښت راغلی وو.
په همدغه وخت کي د افغانستان حکومت له قبایلو سره د انګرېزانو په اندازه ستونزي درلودلې. د نادرخان بریالیو حملو، له سرحد څخه هاخواته قبایلو سره دا هیله پیدا کړه چې یو ځل بیا په افغانستان کي د یوه پاچا د لیري کولو او بل پاچا د کښېنولو په عملیاتو کي برخه واخلي؛ او یو شمېر کسان یې، چې غوښتل یې د دوی د حملو رهبري وکړي، جلب کړل. قدر ته د نادر خان له رسېدلو څخه لږ وخت وروسته، د وزیرو او مسودو قبایلو لښکري جوړې کړې او د امان الله د زوی په نوم یو سړی یې را مخته کړ. دوی غوښتل چې د هغه په وسیله د نادرخان حکومت نسکور کړي او په کابل کي یې له داخلي ناراضیانو سره تماسونه ټینګ کړل او هیله یې درلوده چې یو ځل بیا به کابل چور کړي. دوی د افغانستان محلي قواوو ته ماته ورکړه او د خوست مرکز متون یې محاصره کړ. ایله د افغانستان او برتانیې ګډو ملکي او پوځي قواوو دوی په دې قانع کړل چې بیرته خپلو کورونو ته ستانه سي.
کله چې هاشم خان د خپل قدرت د ټینګولو لپاره عملیات پراخ کړل نو په خلکو کي یې نور هم دا شکونه قوي کړل چې هغه د برتانیې تابع دی او د دغه احساس له مخې د هغه په مقابل کي، د ۱۹۳۰ د لسیزي په وروستیو کلونو کي، یوه سلسله ښورښونه وسول. د مثال په توګه د ۱۹۳۸ کال په پسرلي کي، د سوریې یو روحاني سړی، چې په شامي پیر مشهور وو او د امان الله خان ډېر لیري خپل کېدی، هند ته ورسېدی. ده ته ډېر ژر معلومه سوه چې د وزیرو او مسودو لښکر پر کابل باندي حملې ته تیار دي، مګر د افغانستان پوځونو، چې د لسو جنګي الوتکو حمایه ورسره وه، د دوی د پرمختګ مخه ونیوله. وروسته له هغه چې د برتانیې الوتکي هم جنګ ته داخلي سوې نو برتانیې شامي پیرته ۲۰ زره پونډه رشوت پیشنهاد کړ او دا یې هم ورته وویل چې که مقاومت ته دوام ورکړي نو د برتانیې الوتکي به بمبارد باندي وکړي. ده رشوت ومانه او هغوی په الوتکه کي له هند څخه و ایست.
د ۱۹۳۰ د لسیزي تر وروستیو کلونو پوري، د هند تقریبا نیمایي پوځ په شمال لوېدیځ ایالت کي پاته سو؛ نه د دې لپاره چې یا د روسانو د یرغل او یا د افغانانو د حملو مخه ونیسي بلکه د قبایلو د مقاومتونو د ځپلو او داخلي ښورښونو د کرارولو لپاره. تر ۱۹۳۹ کال پوري د هند حکومت قبایلو ته په کال کي ۸۸۵،۷۹۰ روپۍ ورکولې؛ مګر د سولې د ټینګولو لپاره پوځي عملیاتو ته بیا هم اړتیا وه. برتانویانو او د افغانستان حکومت، د سولې د ښه ټینګولو لپاره، پیشنهادونه وړاندي کړل. د بې وسلو کولو پروګرام ځکه رد سو چې د عملي کېدلو لپاره یې ډېرو زیاتو لګښتونو ته ضرورت درلود او ډېر مشکل عملیات یې غوښتل. ځینو پیشنهاد وکړ چې پر سر حد باندي دې د اغزن سیم داسې یو لوی دېوال جوړ سي لکه ایټالیې چې د مصر او لیبیا تر منځ درولی دی. ځینو بیا ویل چې د سرحد په اوږدو کي دې ښوونځي، سړکونه، د اوبولګولو سیستمونه، روغتونونه او نور تسهیلات جوړ سي او په دې توګه دې قبایل، د یرغلونو پر ځای، نورو ګټورو کارونو ته تشویق سي.
په دې برخه کي هر ډول اصلاحاتو د افغانستان د حکومت همکارۍ ته اړتیا درلوده او د لومړي ځل لپاره، په افغانستان کي داسې حکومت ټینګ سوی وو چې هر ډول همکاری کولو ته تیار وو. د مصاحبانو د کورنۍ قدرته ته رسېدلو او له بهر څخه د لمسوونکو څخه د هغوی ویري داسې وضع راوستلې وه چې برتانیې په شمال لوېدیځ سرحد کي ډېر کارونه کولای سوای. دغي پالیسی داسې وضع راوستله چې له افغانستان سره په نورو پراخو ساحو کي همکاري وسي. دغه اړیکي په راتلونکې لسیزه کي نور هم پراخ سول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ